
ناول
Ketabton.com
کره لور
© Cibelle Levi

ketabton.com - The Digital Library

کیسه: تره لور
لیکونکی.. ډاکټر خاطر شاه سادات

پیل

زه او کاینات ګل کاکا په یوا ورځ په مکتب کښي داخیل کړو،د داخلیدو په ورځ استاذ له ما پوښتنه وکړ چي څلور او پنځه څو کیږي ما ورته ژر چي کائنات له ما مخکي نشي اویل اوو چي کائنات پر ما خنده وکړه،کاینات خه په سوچ او فکر سره اویل استاذ محترم نهه کیږي،استاذ کائنات ته شاباسي ورکړ او زما رنګ تک ژیاړ واوخت تر هغي ورځي مي کائنات سره کینه پیده شوا ګل کاکا او د کور ټولو غړو په دي مشوره وکړه چي سادات او کاینات به یو ځایي مکتب ته ځي او راځي.زه به هر سهار وختي پاسیدم اودس او مونځ او د خلي برس کول مي معمول وو او ژر ژر به د مکتب کالي (جامي ) وچولي او تیار به شوم خو کاینات به لا د خوب هم نه وا پاسیدلې چي اکثر به پر مونږ ناوخته وا، او واهل به مو خوړل کائنات سره تک راتګ پر ما بوج نه عزاب وو ځکه چي زما ټول معلومات به یي زما پلار ته ورکول چي نن یي په مکتب کښي جنګ وکړ کورانۍ دنده یي نه وا لیکلي داسې نور، یوه ورځ مي په مکتب کښي جنګ وکړ چي د هلک سر مات

ketabton.com - The Digital Library

شوو ،ما کاینات ته ډیر اویل چي خیر دی کور
څه مه وایا ،کاینات هم رسره ومنله  خو په یو
شرط چي زما بکسه به تر کوره وړي او ماته
به باجي وايي، ما هم ورسره ومنله بکسه مي
تري واخیسته او تر کوره مي ورته سل ځلې
باجي اویل خو هغه دومره په زړه سخته وا
چي څنګه د کور په دروازه  ورننوته بیا یي
زما مور ته ځان رسولی وو او ټوله کیسه یي
ورته کړي وا.

بس سر به مو  څه خوړوم خو زما او د
کاینات ژوند همداسې روان وو او وختونه
تیریدل تر لسم جماعت  وراسیدو،چي یوا
ورځ زه ډیر زیات  ناروغه شوم او تبي مي
کولي .کائنات ماسره ډیره خفه وا او دسمال
یي لندو او زما په تندي باندې کیښودو او
ژړل یي، چي د کاکا ښځه مي کوټي ته
ناساپي راننوته چي د خپلي لور په سترګي
کښي اوښکې ولیدي په غوسه یي ورته اویل
چي ناروغه سادات دی او دویمه ورځ دا چي
مکتب ته ته نځي ورکشه زما له سترګو ،چي
کائنات لاړه د کاکا ښځي مي ماته یخني
شوروا  راوړي وا او په خپل لاس یي راکړه
او رته یي اویل چي مورته دي څه مه وایا
چي ماته یي یخني راکړه ما ورته د هو پر
ځايي سر وخراو او بحر لاړه،زما ناروغي
پینځه ورځي ونیولي چي مکتب ته لاړم له
ما ډیر درس تیر شوی وو او کورانۍ واضیفي

ketabton.com - The Digital Library

رباندي بوج شوي وي ،واپس چي کور ته راتلو
کائنات د مخکي ورځو پشان نه وا او خواړه
خواړه يي راکتل او خبري کول يي غوښتل
خو بهانه يي لټوله،ماته يي اويل سادات ولي
خاموشه يي ولي خفه يي ما نه غوښتل
چي خبري ورسره وکړم نو د هغي خبري مي
په نيمه کښي پري کړه ورته مي اويل چي
کورانۍ دندي ته خفه يم .ويل يي څه څه د
کاکا لور دي شته او ته خفګان کوي ته خو اول
خپله بکسه وګوره تمبله چي بکسه کښي دي
کتابچي شته او که نا،ما هم په ريښتيا ژر ژر
بکسه خلاصه کړه چي ګورم يوا کتابچه هم
نه وا ،په غوسه مي ورته اويل غلي راڅخه
پټي کړي دي دي راکړه زما کتابچي
په خنده يي اويل چي د کاکا ځو هو ما
اخستي ټولې کورانۍ دندي مي درته پکي
ليکلي دي،ما ورته اويل خه ته راکړه ژر مي
د هغي بيک به غير د اجازې خلاص کړ چي
ګورم زما څلور کتابچي ورسره وي او ټوله
کورانۍ دندي يي رته په ښايسته خط ليکلي
وي،زه ډير زيات خوشحاله شوم او مننه مي
تري وکړه.رته يي اويل د کاکا ځو منې او که
نا .ما ورته اويل والله منم دواړه وخندل او
روان شوو د کور په طرف.دکاينات خبري انداز
کتل سترګي او وريځي خورول رته بل شان
ښکاره شوو او په سوچ يي اخته کړم،زړه مي
غوښتل چي د غرمې ډوډۍ يو ځايي ورسره

ketabton.com - The Digital Library

وخورم او همداسي وشول،دغرمې ډوډۍ مي ورسره يو ځايي خوړل شروع کړل تير په ثير يي خپله شوخي ښکاره کړه چي مرچک يي رته د ډوډئ په کپ(کپله)کښي بند کړی وو او رته يي اويل چي سادات دغه کپ خو زما لپاره اخره ،،زما لپاره،، دا خبره رباندي ډيره خوږه ولګېده،ما ويل خه راکړه چي څنګه مي کپله په خله کړه پوهه شوم چي مرچک دی ورکي زما خله يي ډيره ترخه کړه او سترګي مي سري شوي خو مخکي په څير غوسه نشوم کائنات منده کړه او اوبه يي راوړي او رته يي ونيولي چي واخله اوبه وڅښه،او ای بيا ماسره په ډوډۍ مه کينه ماسره ناسته دومره دردونه لري.ما چي دا خبره واوريده ژر مي لاس کړ او د هغي د مخي مي دوا مرچک راواخستل او دواړه مي په خله کړل او لړ مي ورته په ډکو سترګو وکتل او روان شوم.

ماښام په چت ناست ووم کائنات راوخته او څنګ کښي مي کيناسته،او رته يي اويل سادات له ما خفه يي زه چوپ ووم بيا يي رته اويل سادات له ما خفه يي، ما ورته اويل نا ولي خفه شم بيا يي ژر راغبرګه کړه سادات د غرمې له پاره درڅخه بخښنه غواړم دواړه لاسونه يي   د خپلو غوږونو وراسول ويل يي بخښي مي. ما يي دواړه  لاسونه په خپلو لاسونو کښي کلک ونيول ظاليمي ستا

ketabton.com - The Digital Library

لپاره خو زه زهر هم خورم دا خو له مرچک
دی،دا خبره زما د خلي ښکه راووته پوهه
نشوم ،ویل یې خه ډیره دربانډي ګرانه یم
ولي دي مخکې نه ویل هن،دي وخت کښې
ورته مور غږ وکړاو لاړه،نو وس کائنات پر
ما بوج نه دی دواړه خه په مینه مینه مکتب
ته ځوو ،یو بل ته مو د مینې وعدي ورکولي
او د ټول ژوند د تیرولو خوبونه مو لیدل خو
زما د کور غړو ته دغه چلن به هیڅ خوند
نه ورکوو او هر وخت به یې زه مونږ د بیله
ولو کوښښ کوو ،مور به رته ویل چې دا تور
مخې بنچارې خه کوي زه به تاته سپوږمۍ
راولم خو ما ویل نا موري زما کور وداني به
صرف کائنات وي که کائنات نه شوا نو زه بله
ښځه نه کوم مور مي دغې خبري ډیره خفه
کړه او په ژړه دخونې اواته،کاینات به هم ماته
کیسي کولي چې سادات دا ولي زمونږ کورانۍ
زمونږ په یووالي خفه کیږي ما ورته اویل زه
نه پوهیږم ،خو دومره پوهیږم چې زه لتا غیر
ژوند نه شم کولی که ته زما نه شوي نو ځان
وژنه کوم دا مي تاسره وعده دا،کاینات اویل
سادات ته به هیڅ کله داسې نه کوي،که زهر
خورو دواړه به یې خورو په دغې مو سره
خبره راغونډه کړله
وخت په تیریدو سره زمونږ د مینې کیسه
په ټول کور کلي خپره شوا د لسم جماعت
چهار نیمه ازمویني شروع کیدو چې پلار

ketabton.com - The Digital Library

مي ناڅاپي اويل چي زه کندهار ته تبديل
شوم مونږ به لخيره  روان دوشنبه کډا وړو،ما
ورته اويل چي څه ولي زما مکتب پلار رته
په غوسه  اويل مادي تول کارونه خلاص
کړي ته سبا ورشه او  سي پارچه راواخله، دا
خبره پر ما قيامت وو.مورته مي ډير سوالونه
وکړل ډير مي ورته وژړل ،تره ته لاړم کاکا
ښځي ته لاړم هيڅ چا مي ژړه او سوالونه ته
ونکتل،همداسي په خفګان ويده شوی ووم
د شپي دوا  بجي وي چي د کائنات په سلګو
رپاسيدم ګورم چي سر ته مي ناسته دا او
ژاړي

👈👈

ژر پاسيدم ماويل  ولي کائنات څه شوي
کاينات راغاړيوته او خه يي زړه تش کړ ما
ورته اويل چي ليوانۍ مرکيږم خو نه واپس
خو راځم او ته خو هځي هم زما يي او په
تندي مي ښکل کړه،کاينات ويل سادات چي
ته لاړ شي  کندهار ته زه به ستا له ياده ووځم
او ځانته به بله ښايسته جلۍ پيده کړي، ما
ورته اويل ليوانۍ لتا به هم بل څوک ښايسته
وي  تر وسه خو مي پيده نکړه او نه يي پيده
کوم ،ته صرف دعا کوا او صبر الله ج مهربانه
دی.مونږ کندهار ته کډه يوړه پلار مکتب کښي
داخل کړم خو ماته يي خوند نه راکوو  په
[illegible]

ketabton.com - The Digital Library

لاره چي به تلم نو د کائنات شوخي خبري
سترګي وهل به رته مخي مخي ته کیدل او
په ژړه به کور ته راغلم .مور مي هم راسره
ځوریده او اکثر به یي ماسره یو ځایي ژړل
او د صبر دعا ګانې به یي رته کولي،یوا شپه
ماته خوب نه راتلو له خونې بهر راوتم ګورم
چي مور مي مونځ ولاړه ده او د دعا په
وخت کښي په ژړا غونې غږ یي د الله ج دعا
کوله یا الله زما ځوي ته د زړه صبر ورکړي
داسي صبر چي بیا هیڅ کله د کائنات نوم
وانخلي.ماته ډیر خفګان راغی چي ولي زما
مور داسي دعاګانې کوي.سحر زمونږ ګاونډی
د یو زیارت ورته ویلي وو زه یي التا هم بوتلم
او دعا ګانې یي وکړي خو د صبر دعا ولي
زما مور داسي کوي ماته ډیره ژاړه راغله خو
هیڅ مي ورته ونه ویل.چي راتلو مور مي د
خپل سر زړوکی منجاورې ته ورکړ،چي کور ته
وراسیدم زړ مي ډیر راتنګ شوو،نور یي هیڅ
صبر نکوو او د کائنات لیدل یي غوښتل لاړم
خونې ته د کائنات په لاس لیکل شوی نوټ
مي راواخست او هره کتابچه مي پانه په
پانه ښکل کړه ناڅاپي مي په خط سترګي
ولګیدي چي ګورم لیکل شوي وو. د کاکا ځو
ډیره مینه درسره لرم خیر دی غیر له ما بل
چاته مه ګوره ځوریږم زه خبره یم چي سبا
تاسره مینه لري هغه له ما ښایسته هم دا خو
خیر دی ته ورته مه ګوره وسلام.سبا زمونږ

ketabton.com - The Digital Library

ټولګي واله وا په اخیره کې یې بیا لیکلي وو سادات مینه درسره لرم او زړه یې رسم کړی وو.ما چي دا خط ولیدو خه په چغو چغو مي ورته وژړل ،نو وخ باید کائنات یو ځل بیا وګورم ،سحر د مکتب په بهانه لاړم..
سیده مي د غزني هډي ته ځان ورسوو بیا کابل او بیا جلاباد ته، د کندهار تر جلال اباد تقریبان 450 کلو میتره لار ده چي لس ساعته مځل څخه ورسته کور ته ماښام ناوخته وراسیدم ټول ماته په انتظار وو داسي معلومیده چي پلار مي ورته زنګ کړی وي ټولو رته سترې مشي وکړل خو کائنات مي ونه لیده ژر مي تپوس وکړ کائنات کائنات څه شوا هن هیڅ چا ځواب رانکړ د کاکا ښځي مي رته اویل سادات لاړشه لاس مخ پري مینځه اول ډوډۍ وخوره او ویده شه سبا به خبرې کوو ما ویل سمه ده چي شپه شوا خپلې زړي خونې ته لاړم کرل او رویبل مي کول چي په دي وخت کښي دروازه په قلاره ټک ټک شوا ما هم دروازه خلاصه پریخی وا زه پوهیدم چي کائنات به راځي کائنات ور راخلاص کړ او ژر یې رامنډه کړه او کلک یې غیږه کي ونیولم ما ورته اویل ولي ژاړي دغه دی راغلم نور نو نه نځم تاسره یم او ته به ماسره یې سر یې پورته کړ ویل یې ریښتیا ما ورته اویل هو کائنات ریښتیا وایم کائنات راغبرګه کړه چي زه به بیا

ketabton.com - The Digital Library

مکتب شروع کړم .ما ورته اویل ولي مکتب
ته نه ځي کائنات اوښکې پاکي کړي یو څو
ورځې لاړم خو لتا غیر یي خوند نه راکو بیا
نه یم تللي ،ما ورته اویل ولي داسي کوي تا
باید داسي نه وایي کړی،خبرې مو کولي چي
په دي وخت کښي ګل کاکا خونې ته راننوته
کائنات ژر پاسیده او خپل ټیکری یي سم
کړ،ګل کاکا ډیر غوسه وو زه یي یوا سپیږه
اواهلم خو زما په واهلو خوښ نه وو داسي
ښکاریده لکه ګناه چي کوي.ماته یي اویل زما
د لور څخه زړه صبر کړه زه خپله لور لوفر
لوچک او خر ته نه ورکم سحر وختي زما له
کوره اوزه ،او کائنات یي له لاس کش کړه او
بهر لاړي د کائنات ډکي سترګي شاته وکتل
خو هیڅ یي وس کښي نه وو.ما ټوله شپه
وژړل چي سحر شو د کاکا ښځي مي چایي
راوړو او په میز یي راته کیښود داسي یي
په ډک زړه راوکتل او غوښتل یي چي کلک
مي زړه پوري ونیسي او تر قیامته مي لري
نه کړي خو له ډار یي داسي ونکړ او لاړه.ما
چایي ونځښه او په بیړه د کور اواتم واپس
د کندهار په طرف روان شوم ،کورته چي
وراسیدم مور مي د انګڼ په مینځ کښي ناسته
وا او ژړل یي چي پر مایي سترګي ولګیدي
ژر یي رامنده کړه او غیږه کښي کلک ونیولم
زه نور په ځان نه یم پوهه شوی، چي سترګي
مي وغوړولي مور مي سر ته ناسته وا او ژړل

ketabton.com - The Digital Library

يي ما د ځان پورته کولو کوشش وکړ خو
ډاکټر منعه کړم .دوا ګینتي بعد يي مونږ کور
ته روخصت کړو.خو زما تبعیت وس هم خه
نه وو تبه مي وا په سبا ورځ ګل کاکا کائنات
او زمونږ ټوله کورانئ راغلل زما صحت وس
تر مخکښ خه وو ټولو زما په حال ژړل خو
کائنات په یو کونج کي غلې ناسته وا لکه بي
روحه جسد هیڅ يي نه ویل،ګل کاکا په لوړ
غږ خبري شروع کړي ټول غلي شوو زه نن
سادات او کاینات ته یو تریخ حقیقت وایم د
دي خبري په اوریدو پلار مي له خوني اواته
او باقي پاتي خلک ټول په ژړه شوو لک یو
کور ته چي مړ مسافر راوړي ،ګل کاکا هم
په ژړه غونې غږ اویل ساداته کائنات ستا د
تره لور نه ده ستا خور دا. ته زما ځوی يي
نه د شریف، د شریف کاکا دي بچي نه وو نو
ته ده دري میاشتو وي چي ته ما شریف ته
ورکړي او یو کال بعد ماته بیا الله ج کائنات
راکړه په دي سره ګل کاکا په چغو چغو وژړل
او د الله يي توبي ویستلي ، په دي وخت
کښي کائنات له ولاړي وغورځیده او ټولو
ورمنده کړه کائنات يي چي راپورته کړه نو د
لاس څخه يي یو بوتل وغورځیده ،چي بوتل
ګل کاکا راپورته کړ په بوتل د وژونکو درملو
نوم لیکل شوي وو،له ګل کاکا د لاس بوتل
وغورځیده او ورمنده يي کړه چي د هغي
لاس يي راپورته کړ نو هغه په دي دنیا نه وا

ketabton.com - The Digital Library

او زمونږ ټوله کورانۍ راغلل زما صحت وس
تر مخکښ خه وو ټولو زما په حال ژړل خو
کائنات په یو کونج کي غلي ناسته وا لکه بي
روحه جسد هیڅ یي نه ویل،ګل کاکا په لوړ
غږ خبري شروع کړي ټول غلي شوو زه نن
سادات او کاینات ته یو تریخ حقیقت وایم د
دي خبري په اوریدو پلار مي له خوني اواته
او باقي پاتي خلک ټول په ژړه شوو لک یو
کور ته چي مړ مسافر راوړي ،ګل کاکا هم
په ژړه غونې غږ اویل ساداته کائنات ستا د
تره لور نه ده ستا خور دا. ته زما ځوی یي
نه د شریف، د شریف کاکا دي بچي نه وو نو
ته ده دري میاشتو وي چي ته ما شریف ته
ورکړي او یو کال بعد ماته بیا الله ج کائنات
راکړه په دي سره ګل کاکا په چغو چغو وژړل
او د الله یي توبي ویستلي ، په دي وخت
کښي کائنات له ولاړي وغورځیده او ټولو
ورمنډه کړه کائنات یي چي راپورته کړه نو د
لاس څخه یي یو بوتل وغورځیده ،چي بوتل
ګل کاکا راپورته کړ په بوتل د وژونکو درملو
نوم لیکل شوي وو،له ګل کاکا د لاس بوتل
وغورځیده او ورمنډه یي کړه چي د هغي
لاس یي راپورته کړ نو هغه په دي دنیا نه وا
خلک د کائنات په مړيني خفه وو او ژړل یي
زه په قلار له کوره اواتم
څنګه وه خوښه موشوه.....

10:13 AM

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*